**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د تېلو صادروونکو هېوادونو سازمان (اوپیک) + منشور**

**پوښتنه:**

د ۲۰۱۹ کال د جولای ۹ مه ریاض ویبپاڼې په خپل راپور کې ولیکل، چې سعودي عربستان د «ویانا تړون» په لاسلیک کې چې د تېلو صادروونکو هېوادونو سازمان (اوپیک) او د تېلو تولیدوونکو هېوادونو ترمنځ تېره سه شنبې وشو، اغېزمن رول ولوباوه. ایا دا د اوپیک سازمان بدیل دی؟ ایا سعودي عرب نوموړی رول په خپل نوښت یا د بل چا په اشاره ولوباوه؟ په دغه تړون کې د سعودي عرب ګټه څه ده؟ یاد تړون به څومره وخت دوام وکړي؟ الله سبحانه و تعالی دې اجر درکړي.

**ځواب:**

د دې لپاره چې پورته پوښتنو ته ځواب ووایو، لومړی باید لاندې موضوعات تر څېړنې لاندې ونیسو:

**لومړی، د هوکړې واقعیت:**

۱- د ۲۰۱۹ کال د جولای پر ۲مه په ویانا کې د اوپیک سازمان د وزیرانو په ناسته کې د اوپیک (د تېلو صادروونکو ۱۴هېوادونو) او ۱۰نورو هېوادونو تر منځ د همږغۍ یو منشور لاسلیک شو، چې مشري یې د تېلو ستر تولیدوونکي هیواد روسیې کوله. یاد منشور د ویانا تړون/اوپیک سازمان+(فلس) په نوم ونومول شو او په راتلونکي منې کې به سعودي عرب ته د پوتین د سفر په ترڅ کې په رسمي توګه لاسلیک شي. یادو ۲۴ هیوادونو هوکړه وکړه، چې د کم تولید هغه دوه نیم کلنه هوکړه به اوس د ۹ نورو میاشتو لپاره هم غځول کېږي. یاده هوکړه هغه بهیر دی چې د روسیې او سعودي عرب اړیکو ته له هغه وروسته د تېرو دریو کلونو په ترڅ کې کتنه کوي، چې په ۲۰۱۴م کال کې د تېلو په بیه کې د پام وړ کموالی راغی. د تېلو بیه له ۱۴۷ ډالرو څخه د ۲۰۱٦م کال په پیل کې ۲۷ ډالرو ته راټیټه شوه او دا کار د دې لپاره وشو، څو د تېلو بیې مهار شي او نړیوالې غوښتنې پوره کړي. په دې ترڅ کې سعودي عرب چې د اوپیک سازمان مشرې یې کوله، له روسیې سره هم هوکړه وکړه؛ چې د اوپیک سازمان غړي هېوادونه به د ورځې ۱,۲ بېلره تېل تولیدوي او روسیه به خپل۳۰۰ زره بېلره د تېلو تولید کموي. په دې سره به د تېلو بیه له لوېدو څخه وژغورل شي، نو ځکه د تېلو د یوه بېلر بیه ۵۵ ډالرو ته لوړه شوه. له دغې هوکړې وروسته د تېلو بیه د تېرو دوو کلونو په ترڅ کې مخ په لوړېدو وه، چې دا د تېلو تولیدوونکو هیوادونو ته د قناعت وړ وه.

د تېلو صادروونکو هېوادونو سازمان (اوپیک) ته نوي تولیدوونکي هېوادونه؛ لکه قزاکستان، مکسیکو، ازربایجان او روسیه هم ور زیات شول او له اوپیک سازمان څخه یې اوپیک سازمان+(فلس) جوړ کړ، چې د نړۍ ۴۷سلنه د تېلو د تولید کنټرول د همدوی په لاس کې دی. په داسې حال کې چې اوپیک سازمان مخکې یوازې د نړۍ ۳/۱ برخه تېل تولیدول او اوس ښایي د تېلو له تولیدوونکو هیوادونو سره د پام وړ مرسته وکړي، څو د تېلو بیې مهار

کړي. دا مسایل تر اوسه یوازې د کاغذ پر مخ دي، ځکه چې یاده هوکړه په عملي ډګر کې پر نورو شیانو سربېره د لاندې څېزونو پر مټ پلې کېږي، لکه:

**الف-** یاده هوکړه اوپیک سازمان له منځه نه وړي، بلکې د یاد سازمان غړو له نورو تولیدوونکو هیوادونو په ځانګړې توګه له روسیې سره یې هوکړه وکړه، هغه روسیه چې بدلون منونکې ده. دا د اوپیک سازمان بدیل نه دی، یعنې د اوپیک سازمان منشور به پر خپل ځای پاتې وي، ان که د اوپیک + (فلس) تر چتر لاندې نوي دولتونه له اوپیک سازمان سره یوځای هم شي. دا په اصل کې یو داوطلب تړون دی، چې نوي دولتونه په خپله خوښه له یاد منشور څخه وتلی شي.

**ب-** یاده هوکړه د تېلو بازار نوي واقعیت ته په کتو پر تولیدوونکو هیوادونو باندې تپل شوې ده. د امریکا د شېل( د شېل ډبرې ځاګانو څخه چاڼ شوو) تېلو بیه په دوامدار توګه لوړېږي او ټیټېږي او د اټکل له مخې له ۲۰۲۵ کال پورې به دوام ونه کړي. نو له همدې امله یاده هوکړه به په احتمالي توګه تر هغه وخته دوام مومي، څو په امریکا کې د شېل تېلو تولید او په بازارونو کې  د هغه اغېز ځرګند شوی نه وي.

**ج-** سعودي عرب د اوپیک سازمان یو له لویو غړو څخه دی، چې د یادې هوکړې په کېدو کې یې پوره ونډه درلوده. سعودي عرب ځکه دا کار وکړ چې د امریکا لاسپوڅی دی او د امریکایي تګلارې سره سمې خپلې کړنې پر مخ بیایي. له همدې امله په دغه هوکړه کې امریکا پوره لاس درلود او دا هوکړه له روسیې سره د امریکایي تګلارې تر اغېز لاندې وشوه.

**دوهم، د یادې هوکړې موخې:**

۱- کله چې په ۲۰۱۴م کال کې د تېلو بیې ولوېدلې، نو په نړیوالو بازارونو کې د تېلو تولیدوونکو هیوادونو ترمنځ همغږي د تېلو د عرضې د مهارولو په موخه اړینه شوه او د بازار له غوښتنو سره سم یعنې د عرضې او تقاظا اوصولو ته په کتو سره یې د تېلو بیه مهاروله. په تېرو لسیزو کې یاده چاره خپله د اوپیک سازمان هېوادونو کوله، چې د تېلو د سترو تولیدوونکو هیوادونو کور ګڼل کېږي، خو په دې وروستیو کلونو کې روسیه د تېلو ستر تولیدوونکی شو او د تېلو تولید یې د ورځې له ۱۱میلیونو بېلرو څخه ډېر دی، یعنې روسیه د نړۍ ۱۰سلنه تېل تولیدوي. روسیه د اوپیک سازمان څاري، که چېرط یاد سازمان خپل تولید کم کړي، نو بیې لوړېږي. روسیه د خپل تولید په زیاتولو سره له لوړو بیو ګټه پورته کوي، ځکه چې دا د اوپیک سازمان پرېکړو ته د غاړې نه اېښودل دیاو همدې چارې امریکا هغه وخت اندېښمنه کړه چې پر روسیه یې بندیزونه ولګول. له همدې امله، امریکا سعودي چې د تېلو یو ستر تولیدوونکی هیواد دی او پر اوپیک سازمان پیاوړی اغېز لري، دنده وسپارله چې د اوپیک سازمان او روسیې ترمنځ یو ډول ایتلاف جوړ کړي، څو د روسیې د تېلو تولید د اوپیک سازمان په حدودو کې د سعودي او روسیې تر منځ د همغږۍ تر نامه لاندې کنټرول شي.

۲- د دې لپاره چې همغږي پر واقعیت بدله شي، د سعودي-روسیې ترمنځ په اړیکو کې تر ۲۰۱۴م کال وروسته د پام وړ ښه والی راغلی دی. د ۲۰۱۷م کال د اپرېل پر ۱۰مه ملک سلمان مسکو ته سفر وکړ او دا روسیې ته د یو سعودي پاچا لومړنی سفر و. د روسیې ولسمشر او سعودي شهزاده ترمنځ ګڼې ناستې وشوې او روسیه لیواله شوه چې له سعودي سره د وسلو پلورلو پراخې هوکړې لاسلیک کړي او په دې سره د دواړو هیوادونو ترمنځ د تېلو د اړیکو یو پېر پرانیستل شو. دغه ټولې چارې د امریکایي لاسپوڅي ملک سلمان او د هغه د زوی په دور کې وشوې. د سعودي-روسیې د هڅو په پایله کې د ۲۰۱٦م کال د نومبر پر ۳۰ مه لومړنۍ هوکړه د اوپیک سازمان او ۱۱ نورو هیوادونو ترمنځ د تېلو تولید د کمولو په تړاو لاسلیک شوه، چې له مخې یې اوپیک سازمان د ورځې خپل د تېلو د تولید ۱٫۲ مېلیونه بېلره کموي. په داسې حال کې چې نور ۱۱ هیوادونه د ورځې خپل د تېلو تولید ٥٦۰ زره بېلره کموي، چې له یادې اندازې څخه ۳۰۰ زره بېلره د ورځې یوازې روسیه خپل د تېلو تولید کموي. د دې هوکړې تر لاسلیک کېدو مخکې سعودي ګواښ کړی و، چې په بازارونو کې به د تېلو تولید خورا ډېر کړي. نو له همدې امله روسیې د بیو د ټیټوالي او د تېلو د لیلام له وېرې له سعودي سره همغږۍ ته مخه کړه، څو په دې سره د مالي ستونزو مخه ونیسي. د روسیې ٥۰سلنه اقتصاد د انرژۍ پر وارداتو (تېلو او ګازو) ولاړ دی.

۳- دې هوکړې د تېلو پر بیو مثبت تاثیر وکړ او د تړون تر لاسلیک کېدو وروسته سمدستي د تېلو بیې جګې شوې، خو دا تړون یوازې د شپږو میاشتو لپاره و او تر دې وروسته به د دې هوکړې د اوږدېدو پر سر اوږده بحثونه کېږي. کله چې د تېلو نرخونه ښه وو، روسیې له معمول سره سم غوښتل چې د خپلې بودیج د پیاوړي کولو لپاره د تېلو استخراج او تولید زیات کړي. په داسې حال کې چې سعودي د خپلې ثابتې پالیسۍ سره سم په دې هڅه کې دی چې د تېلو تولید کم کړي، خو کله کله دا ګواښ هم کوي چې د تېلو به دومره زیات کړي، چې د مارکېټ اړتیا به پرې پوره کړي. دا ګواښ یوازې روسیې ته دی چې غواړي د تېلو د تولید کمښت پای ته ورسوي. دا یوه ښکاره لوبه ده او هر څوک چې سیاسي پوهه ولري پرې پوهېږي. د امریکا ولسمشر له سعودي څخه وغوښتل، چې د تېلو تولید زیات کړي، څو په نړیوالو مارکېټونو کې د تېلو بیې راولوېږي او روسیه تشویق شي چې د تېلو تولید کم کړي. داسې ښکارې چې روسیه غواړي د امریکا د فشارونو پر وړاندې مقاومت وکړي، خو له سعودي څخه ډاربږي او د مجبورۍ له مخې له سعودي سره په همغږۍ د تېلو په تولید کې کمښت راولي. د بېلګې په توګه، «ټرمپ د یکشنبې پر ورځ په یوه ټویټ کې وویل، چې ما له سلمان بن عبدالعزیز سره خبرې وکړې او ترې ومې غوښتل، چې د تېلو تولید ډېر کړي. ښایي ۲۰۰۰۰۰۰ بېلره د ورځې وباسې، څو د بیو د لوړېدو مخه ونیول شي، نو په دې سره پاچا سلمان هم د ده غوښتنه منلې ده.» (العربیه الجدید۲۰۱۸/۷/۱).

۴- روسیه د تېلو د تولید په کمېدو سره خپه شوې. العین خبري آژانس د ۲۰۱۹م کال د جون پر ٥ مه په روسیه کې د تېلو د یوې سترې کمپنۍ(Rosneft's CEO) مشر «ایګور سیشن» له خولې لیکي، چې ده سه شنبې په

خپلو خبرو کې وویل: «که چېرې د تېلو په تولید کې کمښت دوام وکړي، موږ به له دولت څخه د خپل زیان د جبران غوښتنه وکړو. له ده څخه معاملې ته په دوام د روسیې د تېلو د کمښت د لامل په اړه پوښتنه وشوه، هغه زیاته کړه: د امریکا متحده ایالات ښايي د تېلو تولید زیات کړي او په مارکېټ کې د روسیې ونډه د ځان کړي.» یا په بله وینا روسیه د تېلو د تولید کمښت نه ده خپه کړې، بلکې د خپګان علت یې دا دی چې سعودي ګوابښ کړی دی، چې د تېلو تولید به زیاتوي او په پایله کې به یې په نړیوالو مارکېټونو کې د تېلو بیې راکښته کېږي. دا کار روسیې ته سخت په زیان دی، ځکه د روسیې نږدې نیمایي بودجه د تېلو له لارې پوره کېږي او له همدې امله روسیې د ډېرې اړتیا له مخې هوکړه وکړه، چې د تېلو په تولید کې به کمښت راولي! دا چاره نرخونه لوړه وي، ترڅو د شېل تېلو صادراتو ته لاره هواره شي او د تېلو تولیدونکو امریکایي کمپنیو رول پراخ کړي. سعودي عربستان د امریکا متحده ایالاتونو توره ده، چې د روسیې پر غاړه یې ایښې او هرکله چې امریکا وغواړي روسیه د تېلو په تولید کې کمښت ته اړ ایستلی شي.

۵- د دې لپاره چې امریکا ته د تېلو د تولید کمښت د اهمیت په اړه پوه شو، نو د تېلو په برخه کې ننني امریکا له پرون سره ډېر توپیر لري، ځکه په امریکا کې اوس د شېل تېلو استخراج زیات شوی او دا ډېرښت د امریکا د اقتصاد لپاره حیاتي ارزښت لري، نو له همدې امله امریکا اوسمهال له زیاتو پورونو څخه کړېږي. د دغه لپاره چې امریکا د تېلو له ډېر تولید او لوړې بیې څخه ګټه پورته کړي، په ځانګړې توګه یې په نړیوال مارکېټ پورې شرایط تړلې دي. له همدې امله امریکا سعودي ته امر کړی، چې د اوپیک په سازمان کې د تېلو تولید کم کړي. له یوه اړخه امریکایي کمپنۍ په اسانۍ کولی شي په مارکېټ کې خپله ونډه واخلي او له بله اړخه د تېلو له لوړې بیې څخه ښه ګټه ترلاسه کولی شي او دا له اقتصادي پلوه هغو شرکتونو ته ګټه رسوي چې د شېل تېل راباسي. د شېل تېل وړاندې یو بېلر په ٦٩ ډالرو پلورل کېدل، خو د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره اوس یې رااېستل په ارزانه بیه پرېوځي او امریکا ته دا توانایي ورکوي، چې د تېلو پر مارکېټ ښه واکمني ولري.

٦- د روسیې پر وړاندې د سعودي ګذار یو ګوابښ رامنځته کوي، چې د تېلو تولید به ډېرېږي، بیې به راکښته کېږي او په پایله کې به روسیه وغولول شي، څو په منځنې ختیځ کې خپل نفوذ او لاسوهنې ډېرې کړي. پاچا سلمان په ۲۰۱۷م کال کې په لومړي ځل روسیې ته سفر وکړ. سعودي عربستان هم پوتین ته دعوت ورکړ، چې په مني کې له سعودي څخه لیدنه وکړي. البته د رسیې لخوا هم د یوه روسي ولسمشر په توګه دا دویم سفر دی چېسعودي ته یې کوي، تر دې وړاندې یوازې یو روسی مشر سعودي ته تللی و. د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین او د سعودي ولیعهد شهزاده محمد بن سلمان د ۲۰۱۹م کال د جون پر ۲۹مه د جاپان په اوساکا ښار کې د جي۲۰(G20) هیوادونو په غونډه کې یو له بل سره ولیدل. پوتین لومړی شخص و چې د «ویانا د تړون» د لاسلیک

کېدو خبر يې ورکړ او د سعودي عربستان وليعهد شهزاده محمد بن سلمان ته يې وويل: «د انرژۍ د بازارونو په برخه کې زموږ د دوو هيوادونو په مرسته ډېر خوښ يم. پوتين زياته کړه چې د اوپيک سازمان د غړو هيوادونو او زموږ د هيواد ستراتيژيکه مرسته د اوپيک+(فلس) سره د تېلو بازار په ثبات کې ساتي او موږ ته دا فرصت راکوي، چې د بازار شرايطو ته په کتو سره د تېلو په توليد کې ډېروالی او يا کموالی راولو.») پوتين همدا ډول اعلان وکړ، چې نړيوالې اوسنۍ معامله په خپله بڼه او ورته شرايطو سره نوره هم وغځېږي. (انډيپنډنټ عربي، ۲۹/٦/۲۰۱۹). دا هر څه روسيې ته يو کاذب احساس ورکوي، چې روسيه پر سعودي، په اوپيک سازمان کې او د تېلو پر بازار اغېز لري! د دې لپاره چې روسان پر دې تړون نور هم را زړور شي، امريکا د مکر او چل په دود د دې تړون پر لاسليک کېدو نيوکه وکړه او خپله ناخوښي يې ترې ځرګنده کړه. د اوباما په اداره کې د انرژۍ مشاور، ښاغلي بورډوف ويلي: «موږ د اوپيک سازمان د تر ټولو باصلاحيته غړو سره خبرې کړې.» او زياته يې کړه: «موږ اوس د امريکا اوله درجه رقيب هيواد په دې تړون کې د رهبرۍ په رول کې داخلوو.» د دغه ميلادي کال په پيل کې چې کله د امريکا د دفاع وزير مايک پمپيو څخه پوښتنه وشوه، چې ايا روسيه د تېلو د ډيپلوماسۍ په زور امريکا ته په منځني ختيځ کې خنډونه جوړولی شي. پمپيو يې په ځواب کې ورته وويل:«زه په دې باوري يم چې ولاديمير پوتين به په خپلو هڅو کې ناکام شي.»

۷- دا د دې منشور واقعيت دی او د هغې د ملاتړو او هڅوونکو خو د دې لپاره چې په عادي توګه دوام وکړي، دا ناشونې ده ځکه روسيې تل هڅه کړې چې له هغو بنديزونو څخه وتښتي او د توليد د لازياتوالې له لارې له لوړو نرخونو څخه ګټه واخلي. په ځانګړې توګه په راتلونکې کې شرايطو ته په پام سره، د روسيې ژمنتيا منشور ته ښای ي سخته شي، لکه سوداګريزه جګړه او د تېلو پر نرخونو باندې د هغې اغېز. شونتيا شته چې يو ځل بيا د تېلو تو ليد ته ثبات راوګرځي او په وينزويلا، ليبيا او ايران کې پر بازارونو باندې اغېز وکړي. د دې ترڅنګ، د روسيې او سنۍ د تېلو شته ذخېرې به تر ۲۰ کلونو څخه په کم وخت کې د اوسني چټک او بېړني توليد پر بنسټ له کمښ ت سره مخ شي، پرته له دې چې نوې د تېلو سيمې کشف شي. د توليد سيالۍ به روانې وي او د ډېرو ګټو هڅې به کېږي. خو نوموړې هوکړه ښايي تر ۲۰۲۵ م کال پورې دوام وکړي، هغه کال چې تمه ده د امريکا د توليد کچ ه به په کې ثبات ته رسي او د دې اغېز پر مارکېټونو باندې ځرګند دی. البته روسيه به هغو واقعيتونو ته په کتو د تېلو جوړولو په پاليسۍ باندې بوخته وي چې د نن په پرتله به زياته بې ثباته وي.

۸- په پای کې بايد يادونه وشي چې د پردې تر شا د امريکا د کاميابۍ راز په دې کې دی چې سعودي عربستان د فشار له لارې د تېلو زيات توليد ته وهڅوي او په پايله کې په سيمه کې په روسيه باندې غولونکی او خيالي ف شار راوړي تر څو روسيه د اوپيک + منشور ته وهڅوي. دا ټولې چارې د امريکا د اميدونو په ريښتيا کېدو او د هغ

وی د نورو پالیسیو په بریا کې مرسته کولی شي. امریکا ځکه پر روسیه بانديز د فشارونو او بندیزونو لګولو پالیس ي پر مخ بیایي، څو د چین پر وړاندې ترې ګټه واخلي. دغه راز امریکا د خپلو هیلو ربښتینولي د اوپیک +(فلس) پلان په بریا کېویني، نو له همدې امله د روسیې پروړاندې ورځ تر بلې فشارونه ډېروي. امریکا به سربېره پر دې روسیې ته د غولونې په موخه له چل څخه ډکې ژمنې ورکړي او دا چاره به د روسیې د غولولو بهیر ډېر اسانه کړ ي. ان تر دې چې روسیه به د امریکا تګلارې ته غاړه کېږدي او د چین په ګاونډ کې به د امریکا چوپړ کوي. امر یکا وار له مخې پتېیلې وه، چې ۲۰۱۹م کال د جون پر ۲۹ د جی۲۰(G20) هیوادونو په غونډه کې به له ولسم شر پوتین څخه وغواړي چې چین د منځنی واټن ویشتونکو توغندیو په تړون کې شامل کړي. روسیه دغه تړون ته د خپل امنیت لپاره د بنسټیزې قضیې په سترګه ګوري او چین به یې منلو ته اړ کړي. لکه څرنګه چې تمه ده چ ین به دا رد کړي، خو بیا به د روسیې او چین ترمنځ یو نوی کړکېچ را وټوکېږي او دا به د دې لامل شي چې روس یه به د چین په ګاونډیتوب کې له امریکا سره ودرېږي. دغو ټولو مسایلو ته په پام سره د نوي «ویانا تړون» چې د تېلو د بازارونو د کنټرول په موخه جوړشوی، په حقیقت کې یو امریکایي دام دی چې د روسیې د ښکېلتیا لپاره تر ې ګټه اخلي او په دې سره به د امریکا بریا نور ډېر ستراتیژیک اړخونه هم پیداکړي.

۹- له همدې امله د اسلامي خاورو چارواکو زموږ شمتنی د کفري ښکېلاکي هیوادونو په منځ کې د سیاسي لوبو قرباني کړې دي. که د دغو هیوادونو ګټې په دې کې وي چې تولیدات دي کم شي، نو زموږ رویبیضه (نااهله واکمنان) به وایي، سمه ده! موږ یې منو. که د دوی ګټې په دې کې وي چې تولیدات دې ډېر شي، نو زموږ نااهله واکمنان به بیا هم وایي، سمه ده! موږ یې منو. که د دوی ګټې په دې کې وي چې زموږ شتنمي په ارزانه بیه راڅخه وپیري، نو زموږ نااهله واکمنان به بیا هم وایې، سمه ده! موږ یې منو. که د دوی ګټې په دې کې وي چې ستاسو د شتمنۍ د اخستلو په بدل کې هېڅ قیمت نه درکوو، په دې پلمه چې ستاسو د واک ساتنه کوو. لکه ټرمپ چې په خپلو څرګندونو کې وویل، چې دوی به سرونه و خوځوي او په کور ودانی سره به یې و مني، چې دوی خو زموږ د واک ساتنه کوي!! او د همدوی په واسطه دوی پر نړۍ واک چلوي.

﴿صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ﴾

[البقره:۱۷۱]

***ژباړه:*** *دوی کاڼه دي، ګونګیان دي، ړانده دي؛ ځکه خو په هېڅ خبره نه پوهېږي.*

﴿وَمَنْ كَانَ فِي هَذِهِ أَعْمَى فَهُوَ فِي الْآخِرَةِ أَعْمَى وَأَضَلُّ سَبِيلاً﴾

[الاسراء:۷۲]

***ژباړه:*** *او څوک چې په دې دنیا کې ړوند پاتې شو، هغه به په اخرت کې هم ړوند وي؛ بلکې په لار موندنه کې به له ړندو څخه هم ډېر ناکام وي.*

**۱۴۴۰هـ.ق کال، د ذوالقعدې ۹مه**

**۲۰۱۹م، کال د جولای ۱۲مه**